مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

رڼاګل اریوبزی

۲۰۲۱/۰۴/۲۸

# د خوشال په فکر

## پوهي ته د لاسرسی لار او شرایط

## شپږمه برخه

### الف: بیولوژیکي شرایط:

د خوشال ختک دځرګندونو څخه سري دي نتیجي ته رسیدلی شي چي دده په نظردانسان پوهه او تجروبي میراثي نه دي بلکي کسبي دي. مانا دا چي هیڅ انسان په علم او تجروبه سنبال دنیا ته نه راځي، تر زیږیدو وروسته دخپل چاپیریال دشرایطو په چوکاټ کي زده کړه کوي او تجروبي راټولوي. رښتیا هم دادی چي نوی دنیا ته راغلی ماشوم نه خبري کولی شي او نه دبل په خبرو پوهیدلی شي، خپل فردیت او چاپیریال د پیژندلووس نه لري او یوازي دلوږي اودضرورت درفع کولواحساس کولی شي، نو ځکه یي ژوند له سره دچاپیریال په مرسته پوري تړلی دی. له بلي خوا خوشال خان په دي عقیده هم دی چي خالق دانسان بیولوژیکي جوړښت ته د ودي وس ورکړی دی او په هغه کي یي دمعرفت ارګانونه ځای په ځای کړي دي چي له یوه نسله وبل نسل ته ورانتقالیږي یاني میراثي دي. په دي ځای کي دهوښیارانو دا خبره دپام وړده چي: مور نابغه دنیاته نه راوړي بلکي په رورزنه نابیغه تري جوړوي. خوشال خان په انسان باندي دا دهغه دخالق لوی احسان ګڼي چي دروزني او ودي وړځان یي ورکړی دی اولیکي چي:

خو دي وجود دی له سر ترپایه
چي دي موندلی دی له یوه خدایه

واړه نعمت دی که غافل نه یي
هر ځا ی ته ګوره شکر یي وایه

(منتخبات خوشال ختک. ۱۲۸ مخ)

دانسان په وجود کي، چي له سره دودي وړتیا لري، دمعرفت اورګانونه ځای په ځای شوي دي. دا اورګانونه میراثي او یا په مدرنه ژبه بیالوژیکي اویا فیزیولو ژیکي دي، په دي مانا چي یاد اورګانونه دمور او پلارنه اولاد ته ور انتقالیږي، نوځکه دهر انسان په برخه شوي دي، یاني هر انسان دمعرفت په ارګانونو سنبال دی، هغه ته یي دزده کړي اود تجروبورا ټولولو وس ور کړی دی. په دي ډول هر انسان دفکری او جسمي ودي، دزده کړي او لوییدني، لومړی شرط یاني د معرفت ارګانونه په ځان کي لري. خوشال خان یي انسان ته د خپل پروردګار ورکړه ګڼي او په یوه مناجات کي یي دا سي ستایي:

دهـمـه اشـیـا خا لق یي
د هـمـه احـیـا را زق یي

ته باران وکړي په مځکه
ته ریحان وکړي په مځکه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولـئ

رنګارنګ ګلونه وا کړي
ته د مځکې مخ زیبا کړي

عقل تا و رکړ وسر ته
لیده تا و رکړه بصر ته

مزه تا ورکړه دهان ته
ویل تا ور کړه زبان ته

تا سرى هسې عزیز کړ
چې صاحب دې د تمیز کړ

(خوشال خټک کلیات.۷۵۸ مخ)

لوی ذات هر انسان ته سر، سترګې، خوله او غوږونه او له دې لارې یې د ډیري لوړې اوپیچلي زده کړې وس او توان ورکړیدي او په دې ډول یې په عالم کې دهغه مقام وچت کړی دی. که د دې امکان نه په ګټه اخیستودعلم دزده کړې له پاره ملا وتړي له یوې خوا دهغه لوی ذات شکر ادا کولی شي او له بلې خوا په عالم جهان کې خپل مقام نورهم وچتولی شي.

که هرڅو په خپله پوهه کې سقیم یې
د حکیم په حکم کار کړه نور حکیم یې

که په خوله، په غوږ، په سترګو څه زده نه کړې
نور وردرومه ازلي سیه ګلیم یې

د سیرت خوبي پیداکړه چې جوهر ده
په صورت خوږ وغوښه، وینه، ریم یې

(د خوشال خټک کلیات. ۳۶۰ مخ)

دخوشال خان په نظر په سرکې مغز او غوږونه او په مخ کې سترګې او خوله هرانسان ته دزده کړې توان وروکوي او د زده کړې له لارې « دسیرت خوبي » تر لاسه کوي چې دانسانیت جوهر جوروي.

که دا جوهر نه وي د نوانسان انساني ځانګړتیا وې له سره کمزورې کیږي، تر دې چې دانسان څخه یوازې یو کالبوت جوړیږي. نوځکه باید زده کړې ته ملا وتړو، دیرله پسې زده کړې له لارې علم تر لاسه کیږي او دعلم په واسطه انساني ځانګړتیاوې ساتل کیږي او ځواکمنې کیږي.

له بلې خوا وینو چې انسان په خالي فضا کې انفرا دي ژوند نه کوي، هغه یو ټولنیز مخلوق دی، په ټولنیزچاپیریال کې دنیا ته راځي، په دې چاپیریال کې لوئیږي اوروزل کیږي، په لوئید نه او ښوونه او روزنه یې دټولنیزچاپیریال اغیزې ښکاره لیدل کیږي. ځوشال خټک دوخت په بهیر کې دانسان په لوئیدنه، زده کړه اوښونه اوروزنه دچاپیریال داغیزو په هکله هم داسې په زړه پورې څرګندوني لرې چې وربان‌دې بحث کول ضرور او حتمي په نظر راځي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ